سرور احـــــمدزی
ایدیت: ایمل خان فیضی

۲۰۱۰/۸/۱۷

# ایـران د پــــان ایــــــرانیزم پر لـــور

**ایران غواړي نه یوازې افغانستان بلکې د منځنۍ اسیا نور هیوادونه لکه تاجکستان هم د خپل نفوذ ساحه و ګرځوي عربي هیوادونو ته یې هم خپته په اوبو کې ایښې ده او غواړي چې په نورو هیوادو کې لکه افغانستان کې دې هم انقلابونه راشي او دغه هیوادونه دې د دوی په شان د شیعه او یا نور مشرانو لخوا اداره شي.**

**راځئ چې د دې ناروغۍ او "وایروس" غم وخورو، کنه بیا به مو خپل تعریف او ملي هویت له لاسه ورکړې وي او د تل لپاره به مو نوم له تاریخه ورک وي.**

څه موده وړاندې ولسمشر کرزي په ایران کې په یوه غونډه کې ګډون وکړ، داسې یوه غونډه چې له نامه یې د هېواد د تجزیه کېدو بوي راځي، داسې غونډه، چې د هېواد د ۸۰ سلنه وګړو د حقونو او پیژندګلوی تر پښو لاندې کول. زه چې د داسې غونډو په اړه اورم؛ نو د دې غونډو تر شاه راته د پټو دښمنانو ډېر غټ چال ښکاري او هغه دا چې نن یې د هېواد د ۸۰ سلنه وګړو په هویت سترګې پټې کړې او هغوی ټول یې په یو بل پیژند معرفي کړل، نو سبا به بیا همدا ملت د بلوالي تر پولې رسوي، لکه څنګه چې اوس مهال یې یو څه نا اهله کسان راخپل کړي او په ایراني کېدو ویاړي، یعني د ایراني کولتور د عامه ولو په موخه د خپل ځان تر بلهارولو رسېږي. دلته هماغه د رضا شاه خبره رایادېږي، چې ویل یې **"ایران کبیر"**.

ایران غواړي نه یوازې افغانستان بلکې د منځنۍ اسیا نور هیوادونه لکه تاجکستان هم د خپل نفوذ ساحه و ګرځوي عربي هیوادونو ته یې هم خپته په اوبو کې ایښې ده او غواړي چې په نورو هیوادو کې لکه افغانستان کې دې هم انقلابونه راشي او دغه هیوادونه دې د دوی په شان د شیعه او یا نور مشرانو لخوا اداره شي.

که تیر تاریخ ته ځیر شو داسې ټکی به د ایران له لوري ووینو په افغانستان کې چې هرڅوک یاغي شوی ایران ورته خپله غیږه پرانستې او پوځي مرستې یې د افغان حکومت پر خلاف ورکړې، خو کله چې بیا هغه کس د واک ګدۍ ته رسیدلی ایران ورته په مقابل کې بل څوک پیدا کړی او هغه یې هم دیته نه دی پرېښی چې په افغانستان کې په ارام حکومت وکړي یا هم دهیواد جوړیدلو سوچ له ځان سره وکړي.

ایران یوازې پردې ټکي بسنه نه ده کړې بلکې کلتوري، مذهبي او جغرافیوي تیری یې هم پر خپل وخت کړی چې ډېر څرګند مثالونه یې دادي:

کله چې په افغانستان کې د ډاکتر نجیب الله اداره ونړیده او په کابل کې کوڅه بیز حکومتونه پیل شول نو د کابل پوهنتون د حزب وحدت په سنګر بدل شو. سر بیره پردې چې ودانۍ یې ویجاړې شوې، بلکې دپوهنتوني له کلونو راپدیخوا مجهز کتابتون د ایران په اشاره دوحدتیانو په لاس وسوځول شول او له ایرانه ورته فارسي او د شیعه مذهب کتابونه راوړل شول.

دایران له لوري دکرزي په اداره کې هم دفارسي ژبې او شیعه مذهب څو موټره کتابونه د مرستې په ډول غیر قانوني له پولې راواوښتل او په نیمروز کې دسیمه ییزو چارواکو له خوا ونیول شول او ټول یې په اوبو کې واچول.

دایران دمذهبي یرغل یوه غټه بیلګه د محسني مدرسه (خاتم النبین) ده چې مکمل د ایران په مرسته جوړه شوې او د ایران له خوایي نصاب ټاکل شوی او د استادانو تنخاوې یې هم پروخت ورته ورکول کېږي.

په افغانستان کې چې هره تکیه خانه یا دشیعه ګانو مذهبي ځای جوړیږي د ایران د قوم له ښار نه ورته مصرف ورکول کېږي او دغه لړی نه یوازې په کابل یا ولایاتو کې ده بلکې تره ولسوالیو اوکلیو هم اوس غزیدلې ده.

ایران په اقتصادي برخه کې هم افغانستان بې یرغله نه دی پرېښی او خپله ونډه یې په ډېرغټه پیمانه اخستې. **ایران په افغانستان کې ټولو شیعه مشرانو ته هدایت کړی تر څو خپل خلک له کلیو وښارنو ته ولیږدوي او دښارونوځمکې او اقتصاد دوی ته په واک ورکړي چې په دغه ورستیو وختونو کې د ځمکو پر سرجګړې هم دهمدې خبرې ګوی شواهد ګڼلای شو.**

بل غټ مالي یرغل چې شیعه ګانو د ایران په مټ کړی هغه په افغانستان کې مخابراتي پانګه ده چې بې له افغان ټلي کام نه ټولې مخابراتي شبکې له شیعه ګانو سره دي.



افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

تاسي وګورئ په څه چل او مکر يې زموږ مشران دېته اړ کړي چې دا ورسره ومني او په ډېر وياړ سره په داسې غونډو کې ګډون کوي. له ډېر پخوا د هېواد د ښمنانو دا طرحه په پام کې وه چې ورو ورو يې د عملي کېدو خواته روان او که زموږ داسې مشران وي، نو بيا لرې نه ده چې ډېر ژر عملي شي او دا هېواد به خپله نوې پېژندګلوئ په رسمي دول خپله کړي.

تاسي وګورئ چې دا کسان په خپلو پلانونو کې دومره بريالي شوي چې زموږ هېوادوال يې په قومونو او د ځينو په وينا مليتونو وېشلي او ځيني خو يې په ډېر وياړ د بل قوم سپکه يادوي، اوس چې دوی دومره ژور تللي او زموږ په منځ کې يې دومره نفوذ کړی، **راځئ چې د دې ناروغۍ او "وايروس" غم وخورو، کنه بيا به مو خپل تعريف او ملي هويت له لاسه ورکړې وي او د تل لپاره به مو نوم له تاريخه ورک وي.**

اوسمهال افغانستان يو قوي، جدي او هوډمن مشر ته اړتيا لري، چې د هېواد مشري وکړي او په رښتيا سره د هېوادوالو د ارمانونو ترلاسه کونکې اوسي ـ هغه دا چې د همدغه ځواکمن مشر په واسطه به ټول هېواد کې د اسلام مبارک دين پلې شي او په ټول هېواد کې به د همدغه مشر لخوا حنفي فقه د هېواد رسمي مذهب په توګه اعلان شي او د نورو مذاهبو پيروان دې په خپل ځای کې د همهغوی له عقيدې او فقهي کتّه اخلي او عمل دې پرې کوي. دا ځکه چې زموږ د يووالي اصلي ريښه په اسلام کې ده او موږ بايد اسلام ته يوازې د ديني اصل په توګه نه بلکې د هېواد د يووالي د اصل په توګه هم وګورو.

په همدې هيله خپلې خبرې پای ته رسوم او د همدې ليکنې له لارې د ګاونډيو لخوا د هېواد د هويت په اړه خپله اندېښنه له تاسي سره شريکوم.[١]

په درنښت

[١] منبع : لوی افغانستان


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکې په ځير و لولـئ